# افغانستان آزاد ـ آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com www.afgazad.com

| سیاسی | Political |
| --- | --- |



ژباړه : محمدهارون خپل شعشعی


۲۸ اگست ۲۰۱۱

## د قذافي دولت يې ولي نسکورکړ؟

څه موده مخکي په ګلوبل ريسرچ ويبپاڼه کي د امريکا د آیوا ایالت د ډریک پوهنتون د اقتصاد د استاد، پروفيسر اسماعيل حسين زاده، يوه خورا دقيقه علمي- تحقيقي مقاله خپره سوه، چي د پياوړي استدلال او په زړه پورو مالوماتو له امله مي، ډيره خوښه سوه . زړه مي ؤ، چي د درنو هيوادوالو د استفادي دپاره يې په پښتو يا پارسي و ژباړم؛ خو په خواشنۍ سره چي ناروغی او بيا نورو بوختياوو اجازه را نه کړه . په ليبيا کي د ناټود ناروا او ظالمانه يرغل په وجه را منځ ته سوي خونړي حالت يو ځل بيا دی ژوري اوهر اړخيزي ليکني ته متوجه کړم . دادئ نن يې ځيني مهمي برخي او خپله وروستي تبصره له ګرانو لوستونکو سره شريکوم .

پروفيسر حسين زاده، په خپله مقاله کي د معقولو دلايلو او مستندو ماخذو په وړاندي کولو سره، دې ارزښتناکي پوښتني ته قانع کوونکي جوابونه ويلي دي، چي امريکا او د اوروپا استعمارګرو دولتو، ولي په ليبيا کي د رژيم و اړولو ته ملا تړلي ده؟ ډيری خلک، په بي خبرۍ سره تصور کيي، چي د استعمارګرو دولتو د اوسني ناتار تر شا يوازي يوه انګيزه پرته ده، چي هغه د ليبيا د وريا تيلو تر لاسه کول دي او بس . په داسي حال کي، چي د مقالي هوښيار او سترګه ور ليکوال د ناټو د روان وحشيانه تيري د ښکلابلو هدفو په لړ کي پر تيلوسربېره، د ډېرو نورو باريکو او حساسو مسألو يادونه هم کيي( کوي)، چي پوهېدل يې هر حقيقت پلټونکي لوستونکي ته، ډېر ګټور او په زړه پوري دي .

پروفيسر حسين زاده، کاږي : دا خبره سمه ده، چي د تيلوتر لاسه کول، د امپرياليستي هيوادو يوه لېوالتيا او دلچسپي ده؛ خو د ليبيا د رژيم اړولو توله اجندا، يوازي د تيلو په ترلاسه کولو کي نه خلاصه کيږي ؛ ځکه د لوېديځو هيوادو د تيلو لويو شرکتو پخوا لا د ليبيا د تيلو په صنايعو کي پراخ لاس لاره.کله چي قذافي، په (۱۹۹۳ع)کال، د امريکا او بريتانيا فشاروته، پرګوندو سو، تر هغه وروسته يې له دغو او نورو لوېديځو هيوادو سره عادي اقتصادي او ډيپلماتيک اړيکي پيل کړه . لويو امريکايي او اورووپايي شرکتو، د ليبيا د تيلو له شرکت سره، ډېره غوښيني تجارتي معاملي لاسليک کړې؛ اوپه دې توګه، دلوېديځو هيوادو لويو پانګه والو شرکتو، د ليبيا و اقتصاد ته لار و مونده .

پروفیسر حسین زاده استدلال کیي، لکه څنګه چي استعماري قدرتونه د وینزویلا هوګو چاوېز، د کیوبا فیدل کاسترو یا د هغه ځای ناستی، د ایکوادور رافایل دیلګادو، د شمالي کوریا کیم جونګ ایل، د سوریي بشار الاسد، د ایران محمود احمدي نژاد او د بولیویا ایوو مورالیس نسي زغملای؛ یاپه هغه ډول چي یې د ایران ډاکټر مصدق، د ګواتیمالا جېکبو اربینز، د اندونیزیا کوسنو سوکارنو، د چیلي سلوادور آلندې، د هایتي ژان برتراند اریستید او د هندوراس مانویل زیلایا له واکه را وپرزول، په همدې ډول د معمر قذافي له واکمنۍ سره هم دوښمني او مخالفت لري . د پروفیسر حسین زاده په باور، قذافي هم د دغو مشرانوپه څېر، د نړۍ مانوي ( معنوي) پلار ( امریکایي امپریالیزم او د هغه ومتحدینو) ته په اطاعت نه کولوتورن دئ . ددغو مشرانو په څېر، دی هم د دې لوی جنایت په کولو ګرم دئ، چي ولي یې له یوې خوا د نړۍ د مالي ادارو لکه د پیسو د بین المللي صندوق ( آی . ایم . ایف. [1] )، نړۍ وال بانک او د سوداګرۍ د نړۍ وال سازمان ولاربنوونو ته غاړه نه ده ایښې؛اوله بلي خوایې په سیمه کي د امریکا له پوځي انډیوالي څخه سرکښي کړې ده؛ او د نړۍ د نورو ملي - اولسي مشرانو په شان، نه د امپریالیستي هیوادو په دود د لویو کورپراسیونو د ګټو د تحقق په خاطر، بلکي د خپلو بېوزلو خلګو د مرستي په مقصد، د ټولنیزو تأميناتو یا سوکاله دولت دکړنلارو ملاتړ کیي .
زموږ پوه او باخبره لوستونکي پوهېږي، چي په لوېدیځو پانګه والو هیوادوکي لوی انحصاري شرکتونه او نړۍ والي مالي مؤسسي تر ګرده پر سیاسي مشرانو فشارونه اچیي، چي د دوی د لا زیاتو استثماري ګټو او محصولو د تأمین دپاره د ټولنیزو تأمیناتودروازي وتړي . د همدې دلیل له مخي، پانګه وال نظام هیڅکله، په لیبیا، وینزویلا او کیوبا غوندي کوچنیو او پرمختیایي هیوادوکي، ډیموکراتیک ټولنیز بدلونونه او د سوکاله او خیرغوښتونکي دولت پروګرامونه لکه وړیا ښوونه او روزنه، عامه روغتیا او داسي نور، په سترګو نسي لیدای . علت دا دئ، چي د نړۍ وال بازار د مېکانیزم پلویان او مدافعان، د بېلابېلو هیوادو په اقتصادي چارو کي، د واکمنو دولتو په اصطلاح « زیاتي او غیر مؤجه » لاسوهني، نسي زغملای؛ او په کلکه یې مخنیوی غواړي .
د ملګرو ملتو د پرمختیایي پروګرام ( یو. این . ډي . پي . [2] ) د تأيید سوي رپوټ له مخي، لیبیا د پوهني او روغتیا برخو کي، په ځانګړي ډول د نارینه وو او ښځینه وو تر منځ برابرۍ کي د کتني وړ پرمختګ کړئ دئ؛ په داسي حال، چي په سیاست او اقتصاد کي لا د خلګو د استازیتوب دپاره و ډېرو نوروپرمختګو ته اړتیا لیدل کیږي . یو. این . ډي . پي . د جنسي برابرۍ په اړه د خپل بشري پرمختګ د ۲۰۱۰ع کال په رپوټ کي، لیبیا ته دوپینځوسم ( ۵۲) مقام ورکړئ دئ، حال دا چي مصر په دغه رپوټ کي یو سل و اتم ( ۱۰۸)، الجزایر اویایم (۷۰)، تونس شپږ پینځوسم ( ۵۶)، سعودي عربستان یو سلو اته ویشتم ( ۱۲۸) او قطر څلور نیویم ( ۹۴) مقام لري .
که څه هم قذافي تر( ۱۹۹۳ع)کال وروسته د خپل اقتصادي نظام دروازي د لوېدیځو هیوادو د لویو شرکتو پر مخ پرانیستي؛ او د سترو تجارتي قراردادو په ورکولو سره یې، هغوی ته د درنو ګټو وټو لار هواره کړه؛ خو سره له دې هم د نړې مانوي پلار( امریکایي او اوروپایي امپریالیزم) په دې سخاوتو او پېرزوینو قانع نه ؤ؛ ځکه هغوی په هر ځای کي، بشپړ او غیر مشروط اطاعت غواړي؛ د امپریالیزم له نړۍ والي اجندا سره سرَه او د زړه له پاسه همکاري، کافي نه ده . د دې دپاره، چي یو هیواد د ریښتني متحد یا ریښتیني ملګري په توګه وپېژندل سي، باید و متحدو ایالاتو ته حق ورکړي،چي په اقتصادي، جیوپولیتیک او بهرنیو سیاستوکي یې هر اړخیزه لارښوونه وکړي . د همدې دلیل له مخي، قذافي په سیمه کي امپریالیستي پلانو ته د بشپړ اطاعت نه کولو په وجه، په دې سخته او جدي ازموینه کي پاته راغئ .

پروفیسر حسین زاده، دغه راز استدلال کيي، چي قذافي، په سيمه کي د امريکا/ ناټو له عسکري اتحاد سره هم لاس يو نه کړ. ليبيا او سوريه د مديتراني پر شاوخوا هغه يوازني دوه هيوادونه دي، چي نه يي د مديتراني د سمندرګي او منځني ختيځ د کنټرول په مقصد د امريکا او ناټو و استعماري نخشو ته غاړه کښېښووه؛ او نه يي په مدتيرانه کي، د امريکا/ ناټو په عسکري تمرينو کي، برخه واخيسته . همدغه راز يي د ناټو د مديتراني د هغه پوځي ملګرتيا د ډيالوګ غړيتوب هم تر لاسه نه کړ، چي د سيمي زياتره هيوادونه لکه : اسراييل، اوردن، مصر،تونس، الجزاير، مراکش او موريتانيا په کښي شامل دي . قذافي د امريکايي امپرياليزم د خښمولو او نافرمانی په خاطر د متحدو ايالاتو د افريقايي قوماندي د مرکز ( افريکم[۳]) له غړيتوب څخه هم ډډه وکړه، چي په افريقا کي د ارزښتناکو زېرمو او په سيمه کي د سوداګرۍ او پانګي اچووني د بازارو د کنټرول؛ او د افريقا له شمال څخه د چين د شړلو په مقصد، جوړ سوئ دئ .

سربېره پردې، قذافي د سوداګرۍ، پرمختګ او صنعتي کولو د ځايي، ملي، سيمه ييزو او افريقايي پروژو په ملاتړ کولو سره، د لوېديځو دولتو د هغو سياستو او پلانو په وړاندي لوی خنډ ؤ، چي په نړۍ واله کچه، د بې خنده سوداګرۍ او پرمختګ د پروژو غوښتنه کيي . د قذافي ليبيا د تليفون، تلويزون ، راديو او ځينو نورو ټيکنالوژيکو پروژو( لکه له ليري طبابت او له ليري لوست ورکول) له لاري د افريقا د ګرده وچي په سره موښلولوکي، ستره او ارزښتناکه برخه واخيسته؛ د ډبليو . ايم . اي . ايکس .[۴]راډيويي پوُل (پل) له برکته د کليوالو سيمو په ګډون، د افريقا په درسته وچه کي، د تليفون ارزان بيه ارتباطات ټينګ سوه . د پان افريقاد ډېري پرمختللي مخابراتي شبکي د جوړولو طرحه د ( ۱۹۹۰ع )کال په لومړيبوکي- هغه مهال پيل سوه، چي پينځه څلوېښتو ( ۴۵) افريقايي هيوادو، د افريقا د سيمه ييز سټلايټ مخابراتي سازمان ( رسکم[۵]) جوړ کړ. د دې سازمان د جوړېدو هدف دا ؤ، چي افريقا خپله سپوږمکی يا سټلايټ ولري . د دې سپوږمکی له برکته په ګرده افريقا کي، د مخابراتو بيي را کښته سوې . دا هغه وخت ؤ، چي افريقا ته او له افريقا څخه تليفوني مخابرې تر ګرده نړۍ ګراني وې؛ ځکه اوروپا د خپل سټلايټ (اينټل سټ[۶]) د استعمال له کبله، په کال کي پينځه سوه ( ۵۰۰) ميليونه ډالره کلنی محصول اخيستئ . په داسي حال کي، چي افريقايي سټلايټ يوازي څلور سوه ( ۴۰۰) ميليونه ډالره مجموعي خرڅ لاره؛ او افريقا بيا اړه نه وه، چي اورپا ته د کاله پينځه سوه ميليونه ډالره، محصول ورکړي . د دې پروژې د تمويل دپاره، افريقايي ملتو څو واره، له آی . ايم . ايف او نړۍ وال بانک څخه، د مرستو غوښتنه وکړه؛ مګر دې نړۍ والو مالي مؤسسو، څورلس کاله افريقايي هيوادونه، په تشو ژمنو وغولول . په پای کي قذافي، غربي مرستندويانو ته د لاس غزولو دابې ځايه تمه تل ترتله ختمه کړه. قذافي، د دې پروژې د تمويل دپاره درې سوه ( ۳۰۰) ميليونه ډالره، پر مېز کښېښودې . د افريقا پرمختيايي بانک نوري پينځوس (۵۰) ميليونه ډالره پر زيات کړه؛ د لوېديځي افريقا پرمختيايي بانک، نور اووه ويشت ميليونه ( ۲۷) ډالر پر واچول؛ او په دې ډول افريقا د ( ۲۰۰۷ع)کال د ډيسمبر پر شپږ ويشتمه نېټه خپله لومړنی مخابراتي سپوږمکی تر لاسه کړه.

په دې توګه، قذافي د دروسوو ميليونو( ۳۰۰) ډالرو مرستي په ورکولو سره د افريقا د ټولي وچي ژوند پر بل مخ واړاوه؛ خو د قذافي ليبيا په خپل دې کار سره، و لوېديځو دولتوته، لوی تاوان ورساوه؛ ځکه چي اوروپايي هيوادونه يي نه يوازي له پينځو سوو ميليونو ډالرو کلني محصول، بلکي په راتلونکو کلوکي هم د هغو له ميلياردو ډالرو سود يا ګټي څخه، بې برخي کړه . د قذافي ليبيا په خپلو دروسوو ميليونو ډالروسره د افريقا د لويي وچي د لوټېدو مخه ونيوله . له دې سَوَبه، ناځاپي نه وه، چي د لوېديځ امپرياليستي دولتود نړۍ وال مالي سيسټم د بنسټ ايښوونکو او مدافعانو په استازيتوب، قذافي د پيسو او بانکي صنعت په بين المللي او نړۍ وال ډګر کي، د يوه

ورانکار سیاسي مشر په توګه ګانه . قذافي نه یوازي خپل مرکزي بانک د عامه شتمنی په بنه وساته؛ او د خپلو ملي پیسو د خپرولو واک یې له لاسه ور نکړ، بلکې په نه ستړي کېدونکي توګه یې کوښښ وکړ، چې د افریقا د پیسو صندوق، د افریقا مرکزي بانک او د افریقا د پانګې اچونې بانک، هم جوړ کړي .

هغه دېرش ( ۳۰) میلیارډ ډالره، چې اوس د اوباما د اداري له خوا کنګل سوي، په حقیقت کې د لیبیا د مرکزي بانک پیسې دي، چې دافریقایي فدراسیون د جوړېدوپه مقصد له یادو سوو درو لویو او اساسي مالي پروژوسره د مرستې دپاره، بېلې سوې وې . د دغه فدراسیون له مخې د لیبیا په سِیرْت ښارکې د افریقا د پانګې اچونې بانک او په ( ۲۰۱۱ع)کال کې د کامرون په یاوونډې ښار کې د افریقا د پیسو صندوق او د نایجیریا په ابوجا کې د افریقا مرکزي بانک، پرانیستل کېده . ښکاره خبره ده، چې د افریقایي پیسو په چاپېدوسره د هغو فرانسوي پیسود ناچلې اوکوټه کېدو زنګ  هم وهل کېده، چې پاریس یې په مرسته، له تېرو پنځوسو کالو راهیسې، په ځینو افریقایي هیوادوکې، خپل واک ساتلئ ؤ. د دې ټکو په یادولو سره نو، و قذافي ته د فرانسویانو قهر او غضب هم په اسانئ سره د پوهېدو وړ دئ .

د ګرسره پینځه ویشتو( ۲۵) میلیارډ ډالرو په پانګه د افریقایي وجهي صندوق په جوړېدو سره، د افریقا ټوله وچه د لوېدیځ د مالي مؤسسو د خصوصي کولو یا پرایوېټایزېشن له اجباري کړنلاروڅخه ژغورل کېده . له همدې امله ناڅاپي نه وه، چې د ( ۲۰۱۰ ع) کال د ډیسمبر پر شپاړسمه او اوولسمه، د افریقایي هیوادو مشرانو له افریقایي وجهي صندوق سره د خپلو هیوادو د نه یو ځای کېدو په اړه، د لوېدیځو دولتو منفي او تخریبي هلې ځلې، په یوه سلارد کړي .

لوېدیځو قدرتو د یوه بل دلیل له مخې هم، قذافي د خپلو استعماري ستراتیژییو د تحقق په وړاندي، لوی خنډ ګانه، چې هغه د دوی د پخواني استعماري سیاست ( وېشلو او اېل کولو یا ډیوایډ اند رُول[۷]) په لار کې د ده درېدل وه . اوروپایي اتحادیې د افریقایي متحدو دولتو د اتحادیې د را منځ ته کولو په خاطر د قذافي د نه ستړي کېدونکو کوښښو د مخنیوي یا شنډولو دپاره، د مدیترانې د سیمې د اتحادیې[۸] د جوړولوهڅه وکړه. شمالي افریقا باید د اتلسمي او نونسمي پېړی د هغو زړو نژادي کلیشو پر بنسټ، د افریقا له نورو هیوادوڅخه جلاسوې وای،  چې ادعا یې کوله، عرب تبره افریقایان د افریقا د لویې وچې د نورو اولسو په پرتله، پرمختللي او متمدن دي؛ خو د استعمارګرانو د وېشلو او اېل کولو دا سیاست بریالی نه سو؛ ځکه چې قذافي یې سیله او ملاتړ و نه کړ. قذافي همدغه راز، په افریقا کې له امپریالیستي هیوادو څخه الهام اخیستونکو یا د هغو له خوا اداره کېدونکو اقتصادي ټولنو لکه د لوېدځو افریقایي دولتو اقتصادي ټولنه[۹]، د ختیځې او جنوبي افریقا ګډ بازار[۱۰]، د مرکزي افریقا د دولتو اقتصادي ټولنه[۱۱]، د جنوبي افریقا د پرمختیا ټولنه[۱۲] او لوی مغرب[۱۳] ته په لوړه سترګه و نه کتل؛ او له ملګرتیا څخه یې ډډه وکړه .

قذافي، له بریک[۱۴]هیوادو( برازیل، روسیې، هند او چین)، په تېره بیا چین سره د پراخو تجارتي او پانګه اچوونکو تړونو د لاسلیک کولوپه وجه، د لوېدیځو ځواکو لا نور درد او خښم هم را وپاروه . د چین د سوداګرۍ د وزارت د رپوټ له مخې، دغه هیواد ( د امپریالیستي هیوادوله خوا د لیبیا تر ورانئ مخکې) د لیبیاپه شاوخوا پنځوسو( ۵۰) لویو پروژوکې، څه دپاسه اتلس ( ۱۸) میلیارډ ډالره، پانګه اچولې وه . حتا د امریکا د افریقایي کمانډ ستراتیژیکو غونډو له لومړنیو خبرونوڅخه هم په ډاګه ښکاري، چې د دغه پوځي مرکز د مأموریت لویه او مهمه برخه، په افریقا کې د چین کنټرولول یا تر لاس لاندې کول دي . لکه څنګه چې پاتریک هنینګستن یادونه کیې، هغه څه چې اوس په لیبیا کې ګورو، په واقعیت کې د امریکا/ اوروپا او چین تر منځ د یوه بل ساړه جنګ پیلامه ده . دا سوړ

جنګ به د شلمي پېړۍ په دوهمه نيمايي کي د امريکا- شوروي د اوږده ساړه جنګ ډېر عناصر او ځانګړيتاوي په ځان کي را ونغاړي . د امريکا/ اوروپا او چين تر منځ دا سړه جګړه به له دې هيوادو څخه ليري، په افريقا، جنوبي امريکا، مرکزي آسيا او پخوانيو کړکېچنو سيمو لکه کوريا او منځني ختيځ کي، روانه يي .

له دې لنډ بحث څخه څرګنديږي، چي د قذافي د وژلوګونا، په سيمه کي د پانګوالي نظام د ظالمانه غوبلو و مخ ته درېدل؛ او د لوېديځو قدرتو په يوه مزدور دولت باندي د اوښتو له لاري د ليبيا له ملي واکمنۍ څخه د هغه نه تېرېدل دي . د همدې دلايلو پر بنسټ، له واک څخه د هغه دګوښه کولو استعماري نخشه طرحه سوې ده، چي په ليبيا کي د يوه پاسته او لاس پر نامه رژيم په کښېنولوسره، په سيمه کي د امريکا/ اوروپا د پانګي د ازاد خوځښت په لار کي، هر ډول پراته خنډونه او محدوديتونه ايسته کړي .

له واک څخه د قذافي ګوښه کول به د امريکا او اوروپايي ځواکو يوه بل هدف ته هم خدمت وکي، چي هغه د سوله ييزو مظاهرو په بې لاري کولو سره، د عربي پاڅون محدودول يا ګډوډول، د هغو د سوله ييزو انقلابو مخنيوی اود خپلواکۍ دپاره د هغو د لويو ارمانو خاوري کول دي . په فلسطين کي دکوچني صهيونيست امپرياليزم په ګډون، ټولو امپرياليستي قوتوپه مصر او تونس کي د پرتمينو اولسي پاڅونو په ناڅاپي ليدو سره، سمدستي« د تاوان قابوکولو» کړنلاره پيل کړه . دې هدف ته د رسېدو دپاره يي په يوه وخت کي درې بېلي ستراتيژۍ طرحه کړې . اوله ستراتېژي دا وه، چي د کنټرولولو دپاره په مصر او تونس کي د اولسي پاڅونو ظاهري او سرسري ملاتړ وکي ( البته، هغه هم هغه مهال چي نور يي چا مخه نسواي نيولای). په دې سَوَب، له قاهرې څخه د مُبارک اوله تونس څخه د بن علي تر وتلووروسته، په دواړو هيوادوکي، پوځ واک تر لاسه کړ. د کنټرولولو دوهمه ستراتيژي دا وه، چي د وفادارو او مزدورو رژيمو تر واک لاندي هيوادو( بحرين او سعودي عربستان) کي د خلګو د سوله ييز پاڅونو د بې رحمانه ځپلو ملاتړ وکي . د عرب پاڅون د درې ورې کولو دريمه ستراتيژي دا وه، چي په ځينو هيوادو لکه ليبيا، سوريې او ايران کي وکورني جنګ او سياسي اړودوړ ته لمن ووهي .

شک نسته، چي د ليبيا، سوريې، ايران، سعودي عربستان، بحرين، مصر، تونس، يمن، مراکش، اوردن او ډېرو نورو هيوادو واکمنو رژيمو د نړۍ منلو بشري حقوقو او ډيموکراتيکو ارزښتو ته غاړه نه اېښووه؛ او ځيني ځيني يې تر اوسه لا هم نه ايږدي؛ خو سره له دې هم د دونيا هيڅ زورور او غښتلی دولت دا حق نه لري، چي په دې يا هغه پلمه پر خپلواکو هيوادو ناروا او ظالمانه يرغل وکړي؛ بې ګونا انسانان په وينو ولړي؛ د خلګو د تندي په خولو برابر سوي عامه او شخصي شتمنۍ ( مکتبونه، پوهنتونونه، روغتونونه، فابريکي، پلونه، راديويي او تلوېزيوني مرکزونه، کورونه، دوکانونه او داسي نور) په خاور کي لاهو کړي؛ او تر شرمناکو جنايتو وروسته، د مزدورانو او جاسوسانو ببلابېلي ډلي ټپلي د واک پر ګدۍ کښېنيي .

هو! د هر هيواد ربرېدلي او رټل سوي خلک په بشپړه توګه حق لري، چي د خپلو مستبدو، خاينو، فاسدو او بې کفايته واکمنانو په وړاندي سوله ييزه او وسله واله مبارزه وکړي؛ خو داسوله ييزه يا وسله واله مبارزه بايد د اړونده هيواد د خلګوپه کلکه اراده او غوښتنه پيل سوې يي؛ او هدف يې د زورواکۍ، بې عدالتۍ، چور، فساد او بې کفايتيو په له منځه وړولو سره د خلګو په سياسي، اجتماعي، فرهنګي او اقتصادي ژوندکي د مثبتو او ګټورو بدلونو راوستل يي . بهرني هيوادونه، نه يوازي حق، بلکي وظيفه او مسووليت لري چي د خپلواکۍ، عدالت، انساني حقوقو اوسوکالۍ په لار کي د خلګو له دغه راز روا او انساني مبارزو ملاتړ وکړي؛ مګر دا سيله او ملاتړ بايد هيڅکله د استعماري موخو د تحقق په مقصد، د جنګي جنايتو، رژيم اړولو، کرغېړنو لاسوهنو، شيطنت او منافقت په بنو نه يي . انصاف او عدالت دا دئ، چي په هر هيواد او هر ځای کي د ظالمو، زورواکو، خاينو،

لوټماروالو فاسدو واکدارانو پر ضد د مظلومو، ترټل سوو او بې وزلو خلکو ملاتړ وسي . دا ملاتړ باید د سولې، امنيت، بشردوستی، سوکالی او پرمختګ پر بنسټو ولاړ يي .
ايا دا خبره منطق لرلای سي، چي په يمن، بحرين، مصر او تونس کي د خلګود سوله ييزو مظاهروپه وړاندي د مستبدواو فاسدو رژيمو سيله او ملاتړ کيږي؛ خوپه ليبيا، سوريه، ايران او ځينو نورو چا خبره « نافرمانه » هيوادوکي، تروريستانواو مزدورو ډلو ټپلوته پيسي، وسلې، مهمات، جنګي روزنه او راز راز مرستي ورکول کيږي،چي د هر وحشيانه جنايت په کولو سره د واکمنو رژيمو کمبله ټوله کړي؟ حتا په دغه راز پوځي او لوژستيکي مرستو هم بسنه نه کيږي؛ د توغندييو او الوتکو په زور د هغو ملاتړ ته ور دانګل کيږي !
کوچنی او لوی ګرده په دې روښانه واقعيت ښه پوهيږي، چي استعماري دولتونه د بېوزلي افغان، عراقي، ليبيايي، سوري، ايراني او نورو له غمه مړه نه دي . لکه څنګه چي پروفيسر اسماعيل حسين زاده هم په خپله علمي- تحقيقي مقاله کي څو ځايه يادونه کړې ده، د استعماري دولتو ټول يرغلونه، بريدونه، لاسوهني، لمسووني، منافقتونه او خباثتونه يوازي د خپلو لويو پانګه والو شرکتو د سرابښو او انساني ضد ګټو د تأمين په خاطر کيږي او بس .
دا خبره له هيچا پټه نه ده، چي د استعماري هيوادو زياتره جمهور رييسان، صدراعظمان او نور سياستوال د همدې سترو پانګه والو کمپنييو معاش خوره او کمېشن خوره دي . دا بې وجدانه او شرف بايللي سياسي مشران د خپلو ولي نعمتانو د ناروا ګټو د تحقق دپاره له هيڅ ډول جنايت او خيانت څخه مخ نه اړوي . لس کاله مخکي يې زموږ په تاريکه او نړېدلي کوډغاله کي د جنګ او تباهی اور بل کړ؛ زرونه بې ګونا افغانان يې په وينو او خاورو ولړل؛ دوه کاله لا نه وه تېر سوي، چي ودان او سمسور عراق يې د بمو او توغنديو په زور په کنډوالو او خرابو وړاوه؛ او دادئ نن يې د اور او وينو په اورولو سره، په ليبيا کي هم د مزدورانواو جنايتکارانو بېلابېلي ډلي ټپلي، د بې وسه او بې کسه خلکو پر ژوند واکمني کړې . سبا د سوريې، بل سبا د ايران، بله ورځ د وينزويلا، بيا د شمالي کوريا او تر هغه وروسته په وار سره د نورو هيوادو رَوَڼ دئ . د رژيم اړولو دا وحشتناکه لړی به همداسي روانه يي . دا خبره هم تر لمر روښانه ده، پر هر هيواد او هره سيمه،چي د استعمارګرانو منحوس سيوری ولوېږي، له هغه سره جوخت به ويني، اوښکي، لوږه، بې کوري، اجباري مهاجرتونه، زورواکي، چور، فساد او شل نوري بلاوي هم د طاعون او وبا په څېر هري خوا ته وزرونه غوروي .
د ځنګله دا وحشيانه قانون به، په بشپړ باور سره، تر هغه مهال جاري يي، چي د نړی ټول سوله دوسته او عدالت غوښتونکي دولتونه د خپلو پراخو اولسو په بالفعل ملاتړ سره، د دې ظالمو او بدمغزو فرعونانو مخه ونيسي .
د پوهاند اسماعيل حسين زاده د په زړه پوري مقالي د بشپړ تفصيل دپاره، د ګلوبل ريسرچ، دغه لينک وګورئ :
http://www.globalresearch.ca/index.php?context=va&aid=25317

لمنليکونه

[1] IMF (International Monetary Fund)

[2] UNDP (United Nations Development Programme)

[3] AFRICOM (AFRICAN COMMAND)

[4] WMAX (Worldwide Interoperability for Microwave Access)

[5] RASCOM (Regional African Satellite Communication Organization)

[6] INTELSAT

[7] Divide and Rule

[8] UPM

[9] ECOWAS

[10] COMESA

[11] UDEAC

[12] SADC

[13] The Great Maghreb

[14] BRIC (Brazil, Russia, India and China)